نثار احمد صمد ۲۰۱۶/۱/۳۰

# د افغاني هندوانو تاریخپانه

(دریيمه برخه)

## دریيم ـ په شلمه پیړی کی:

تاریخی اسناد او شواهد ښیی چی د شلمی پیړیٔ په اتو لسیزو کی د افغاني هندوانو (او سیکانو) د ژوند شرایط او کاروباران تر نولسمی پیړیٔ لا هم ښه آرام او ګټمن وو. پر هغوی مذهبي، سیاسی او مالی فشارونه په مراتبو لږ سول. د هغوی آزادانه تګ را تګ، آزادانه تشخیص او آزادانه فعالیت ښه رونق وموند. په بل عبارت، د شلمی پیړیٔ لومړني اتیا کاله د افغاني هندوانو په تاریخ کی یو زرین فصل او تر ټولو ښیرازه پړاو دی چی هیڅ سارئ نه لری. خو د ثور د کودتا څخه را وروسته ( تر نن پوری ) د هندوانو او سیکانو ژوند هم د نورو افغانانو غوندی له مصیبتونو او غمونو ډک سو.

په هر صورت، که یو څه شا ته ولاړ سو نو وبه ګورو چی د امیر امان الله خان په واکمنیدو او د افغانستان د سیاسی استقلال په حاصلیدو سره په حکومت کی د هری عقیدي او جامعي غړو ته مساوی حقوق او فرصتونه مهیا سول. دا لا څه، امیر امان الله خان په افغانستان کی یو انقلابي هندوستانی استوګن (راجا مهندرا پرتاب) په ماسکو کی خپل نماینده وټاکی چی هغه د ۱۹۱۹ کال د مي پر اوومه د شوروي روسیي د مشر (لینن) سره وکتل او افغانستان ته یي د مرستی په هکله خبری اتری وکړي (هندیان په جنوبی آسیا کی : ۱۴۲ مخ).

دیوان نرنجن داس د هیواد په حکومتي اداره کی یو پیاوړی او ځواکمن هندو و. هغه په مالي او نظامی چارو کی تجربه لرله او یو قومي مشر هم و. نرنجن داس ملکي ډګروال او هم د مالیي اخیستلو لوی رئیس و چی بیا د مالیي وزیر سو. په هغه عصر کی دا معمول و چی کومو هندوانو به په دولتی اداره او حکومت کی د مامور په حیث دنده لرله نو د فارسی هماغه پخوانئ کلمه « دیوان » به یي د هغوی د اداري لقب په حیث ورته استعمالوله. نو نرنجنداس هم له همدی کبله د « دیوان » په لقب او څار و.

هغه همدا راز په ۱۹۱۹ کی د روالپنډئ د سولی په خبرو اترو کی د افغانستان استازئ و، او بیا په ۱۹۲۰ کی د میسوري په کنفرانس کی هم د افغانستان د رسمی هیأت غړی و (هماغه: ۱۴۳ مخ). د دي هیأت مشر خارجه وزیر محمود طرزي، مرستیال یي د خارجه وزارت د سرحداتو مسؤول عبدالهادي داوي او غړي یي د تجارت وزیر غلام محمد خان، ملکی برګیډ دیوان نرنجن داس، کرنیل پیر محمد خان تره خیلی، په هند کی افغاني مستشار



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

غلام صدیق خان څرخي او یو تحریریه ګروپ وو (نگاهی مختصر به تاریخ معاصر افغانستان: ۲۴۳ ـ ۲۴۴ مخونه).

خو لږ تاریخ پوهان (مثلاً میر محمد صدیق فرهنگ) ادعا کوی چی امان الله خان د انګریزانو سره د خبرو اترو په دغو ناستو کی د نرنجن داس د ټاکلو څخه سیاسی استفاده کوله. یعنی دا چی شاه غوښته په دې ډول د هندوستان هندوان د آزادۍ غوښتلو له پاره ولمسوي. د برتانوي هند حکومت د نرنجنداس د ګډون څخه ډیر نا آرامه سو، دا ځکه چی د هندوستان د اکثریت نفوس په توګه یې د هندوانو پاملرنه افغانستان ته واړوله (افغانستان در پنج قرن اخیر: ۴۹۶ مخ). خو حقیقت دا دی چی امان الله خان د نرنجنداس د اداري او حسابي استعداد څخه بشپړ خبرتیا لرله، نو ځکه یې د مالیې د وزارت مقام ور وسپارئ.

په هر صورت، امیر امان الله خان د خپلو هندو اتباعو سره ډیره منصفانه او عادلانه رویه کوله او هغوی یې د خپلو دینی او کلتوري مراسمو، غونډو او لمانځنو له پاره هڅول. کله چی د کابل هندوانو د (تِلک) د مړینی په خاطر د ویر او غم مراسم جوړ کړل نو امیر امان الله خان شخصاً ورغی او د ماتم په دې مراسمو کی یې ګډون وکړ (هندیان په جنوبی آسیا کی: ۱۴۳ مخ).

د امان الله خان نهه کلنه موده د افغاني هندوانو (او سیکانو) د رنسانس دوره هم بلل سوې ده او هغوی د افغان ملت د انجن د یوې مهمی پرزې حیثیت غوره کړ. امان الله خان ملت ته په خطاب کی وویل چی «موږ هندو، هزاره، شیعه، سني، احمد زی او پوپل زی نلرو بلکی ټوله یو ملت یو، یعنی افغان».

دده په عصر کی اکثریت هندوان د کابل، غزنی، کندهار او جلال آباد په ښارونو کی اوسېدل. غبار لیکی چی ولایتی شوراګانو او د کابل معارف انجمن ته د هندوانو یو یو انتخابي استازي لاره ومیندل او د ښاري چارو په اداره کی برخمن سول. د ۱۹۲۰ کال د مي د میاشتی د شاهي فرمان له مخی هندو اتباع د جزیې ورکولو څخه آزاد سول او د دې مذهبي اقلیت بې وسه کسان چی پر خپل وخت د جزیې د نه ادا کولو له امله تر څارنی لاندی وو، معاف سول او هم د هغوی د پیژندني اړونده ژړ رنګه لنګوټي او نور دغسی مشخصات لغوه سول. د هندوانو اولادونو ته په ملکي او نظامی مکتبونو (حبیبیه او حربیه لیسو) کی د تعلیم او په اردو کی د افسرۍ اجازه ورکړه سوه (افغانستان در مسیر تاریخ ـ ۷۹۴ مخ).

نور نو د هندوانو مذهبي مراسم په ښکاره او آزادۍ سره اجرا کېدل. د لومړي ځل له پاره د دوی په مکتبونو کی هندو ماشومانو ته د نورو مضمونو تر څنګ د دوی د مورنی ژبی یعنی هندي او پنجابي ژبو تدریس او د هندو مذهب زده کړه عامه سوه.

دا لا څه، افغاني هندوانو د امان الله خان د وګړنیز خصلت په درک کولو سره یوه عریضه ترتیب کړه او هغه یې شاه امان الله ته وړاندی کړه چی څو مهمی غوښتنی یې تری کړي وې. وروسته امان الله خان د یو فرمان په توګه د هغوی ټولی غوښتنی تایید کړې. په آثارو او منابعو کی د هندوانو دا غوښتنی جلا ذکر سوي دي او د امان الله خان ځوابونه (د یو فرمان په توګه) جلا ذکر سوي دي، خو زه به دا غوښتنی او ځوابونه سره توحید کړم تر څو ښه واضح او توضیح سی. د هندوانو مطالبي او د شاه ځوابونه دا دي:

۱ ـ څنګه چی ځینی کسان بعضی هندوان په زوره مسلمانان کوی، نو هیله ده چی په دې هکله امر وفرمایاست تر څو حکومتي مسؤولین دقت او توجه وکړی.

ځواب: امر کیږی چی هیڅوک بل څوک نسي مجبورولای چی مسلمان سي. که دا ثابته سوه چی د هغه په حق کی ناحقه شاهدي ادا سوي ده نو دغسی شاهد به پنځه سوه روپی جریمه او دری کاله به بندي کیږی.

۲ ـ په دینی چارو او معاملاتو مثلاً نکاح او میراث کی دی اجازه راکړل سی چی موږ د خپل مذهب (دهرم شاستر) یعنی د خپلو دینی کتابونو د احکامو سره سم فیصلې وکړو.

ځواب: منظور ده.

۳ ـ هندو ښځی زیارتونو ته له ورتګه منع دي. هیله ده چی همایوني اعلیحضرت اجازه وکړی چی هغوی وروسته له دې خپلو زیارتونو ته ولاړی سی.

ځواب: اجازه ده، چی زړه یې وی هلته تللای سی.

۴ ـ که زموږ عبادت ځایونه وران سی نو اجازه دی راباندی ولورول سی چی بیرته یې د پخوا په شان ودان او جوړ کړو.

ځواب: اجازه ده، هر وخت چی ستاسی درمسالونه وران سی، د پخوا غوندی یې آباد کړئ.

۵ ـ که زموږ د خلکو کومه غوا ناروغه سی، موږ د خپل مذهب پر اساس هغه نه وژنو بلکی پریږدو یې چی پخپله مړه سی. خو په کلیو کی ځینی خلک دغسی کار د خپلی کړنی مطابق غواړی او نه پریږدی چی هغه پخپله ضایع سی. نو هیله من یو چی دا کسان تنبیه سی تر څو هندوان په عذاب نکړي.

ځواب : امر کیږی چی وروسته له دې څوک غرض په ونکړی او هغه پریږدی چی پخپله مړه سی. که چا په دې هکله زورزیاتیً وکړ نو سل روپی جریمه به ترې اخیستل کیږی.

۶ ـ د لنګوټې او دریشي په هکله له دې مخکی بندیزونه موجود وو تر څو هندوان د مسلمانانو څخه تشخیص او وپیژندل سی. هیله ده چی دغسی بندیزونه معاف سی.

ځواب: سمه ده، هر ډول لنګوټه چی تړی او هر ډول دریشي چی اغوندی اختیار لری.

۷ ـ هیله من یو چی هندوانو ته دا اجازه ورکړه سی چی هر ځای وغواړي هلته مځکه رانیولای سي.

ځواب : صحیح ده، د افغانستان هر هندو تبعه چی هر ځای وغواړي مځکه رانیولای سی.

۸ ـ هیله من یو چی څومره محصولات چی د مسلمانانو څخه اخیستل کیږی، کټ مټ د هندوانو څخه هم هغومره واخیستل سی.

ځواب : د محصولاتو او نورو په هکله دی د مسلمانانو سره یو رنګه ترې واخیستل سی.

۹ ـ کله چی یوه ښځه مسلمانه سی نو میړه ته یې هم دا تکلیف ورکول کیږی چی باید مسلمان سي. او که یو سړی مسلمان سی نو ماندینه یې هم مجبوروي چی مسلمانه سی. هیله من یو چی دغسی کسان تنبیه سی تر څو داسی کار ونکړي.

ځواب: سمه ده، که نر یا ښځه په خپله خوښه مسلمان سی باید په عیال سره هغه مجبور نکړل سی.

۱۰ ـ کله چی یو هندو هلک چی پلار یې ژوندی وی او پخپله خوښه مسلمان سی، نو هغه د خپل مال اختیار لری چی د ثبوت له مخی یې د ځان سره یوسی. هیله ده چی د هغه د پلار، مور او نورو مال د ده و نه بلل سی او نه هم ده ته ورکړه سی، دا ځکه چی حق نلری.

ځواب: سمه ده، باید په دې باب پوره دقت وسی تر څو حق تلفي ونسی او خپلوانو ته یې ضرر و نه رسیږی.

۱۱ ـ ځینی هندوان چی مسلمانان کیږی په ناحقه سره د میراث دعوه کوی او د خپلو نورو ورونو څخه حق غواړي. هیله ده چی حکومتي لویان په دې اړه دقت وکړی او دغسی شخص باید اضافه طلبي او اضافګي و نه غواړی.

ځواب: که یې پلار یا وررونه مړه سوي وو او وروسته یو له هغوی څخه مسلمان سی او د پلار مال یې تقسیم سوی نه وی نو د شرعي ترکي د اصولو له مخی باید د هغه حصه واخیستل سی. او که د پلار د مړ کېدو څخه مخکی د هغه د زامنو څخه یو مسلمان سی او وروسته یې پلار هم مسلمان سی او بیا مړ سی نو د میراث حق نلری.

۱۲ ـ هر هندو که وغواړي چی د افغانستان څخه دباندی یا له بهره هیواد ته تګ راتګ وکړی، هیله ده چی آزادانه اجازه ورکړه سی.

ځواب: درسته ده، د تګ راتګ د قواعدو سره سم ټوله آزادانه تللای او راتللای سی او د افغانستان په دننه کی دې دیوان نرنجن داس او نور هندو مشران د هغوی ضمانت وکړی او خبر دې یې ولري.

۱۳ ـ کله چی د کوم هندو کور غله ووهي نو هیله ده چی عدلي محکمې د یو مسلمان په شان د دغسی هندو د قضیې هم تحقیق وکړی.

ځواب: امر کیږی چی په حکومتي ځانګو کی دی د هندوانو حقوق هم د مسلمانانو د حقوقو غوندی مراعات سی، نه یوازی د غلا سوو مالونو په ارتباط، بلکی په ټولو دعوو کی باید ددوی حقوق په عدالت او مساوات سره تحقیق کړه سی.

۱۴ ـ څنګه چی د کابل د دارلسلطنه لوی مکتبونه د ټولو هندوانو له پاره د دولت له خوا ټاکل سوي دي داسی چی زموږ څخه هر څوک باید خپل اولادونه هلته دیني او نور علوم حاصل کړی. دا هم ستاسو مهرباني ده. خو هیله کوو چی حتمی دې نه وی او هر کله که څوک خپل پلرنی کسب کول غواړي نو اختیار دې ولری.

ځواب: د دنیا هیڅ پرمختګ بېله علم څخه نه کیږی. زه پوهیږم چی تاسو به څو کاله وروسته پښیمانه سی. خو دا چی تاسو همداسی غواړئ نو ستاسو د خوښي څخه پرته به په عسکري او ملکي مکتبونو کی شمولیت حتمی نه وی. همدا راز، امر کیږی چی ځینی وختونه د شخړی او جنجال او نورو په ترڅ کی چی د کومو جاهلو له خوا هندوانو ته د دوی د مذهب له امله بد او ناوړه ښکنځل کیږی نو عدلي ځانګی او پولیس چی څنګه د مسلمانانو په حصه کی اړونده دقت او ممانعت کوی د هندوانو په هکله هم باید عین عمل اجرا کړی او د ملامت څخه ټاکلې جریمه واخلي. (۱: جریدهٔ امان افغان ؛ لومړی کال، اتمه ګڼه، د ۱۲۹۹ لمریز کال د ثور دیرشمه. ۲: دورهٔ امانی ؛ نګرشی به اوضاع اجتماعی، فرهنګی و سیاسی، ۲۳ ـ ۲۷ مخونه).

امان الله خان دا فرمان د ۱۲۹۹ لمریز کال د حمل د میاشتی پر دوولسمه صادر کړ. د هندوانو د پورتنیو غوښتنو او د امان الله خان د دې پیرزوینو څخه عملاً ثابتیږی چی اماني دولت د افغاني هندوانو او سیکانو سره څومره مینه او خواخوږي لرله.

دا لا څه، امان الله خان وروسته په خپلو حقوقي او اداري اصلاحاتو کی هندوانو ته هم لوی سهم ورکړ. د افغانستان لومړنی اساسی قانون چی د ۱۹۲۳ په اکتوبر کی خپور او نافذ سو، د افغانستان ټولو اتباعو ته (که مسلمان وو یا غیر مسلمان) برابر حقوق ورکړل. د دې قانون په دوهمه ماده کی داسی ویل کېدل: «د افغانستان دین اسلام دی.

د نورو دینونو وګړی لکه هندوان او یهودیان چی په افغانستان کی اوسیږی، هم د ساتنی له حقه برخمن دي.»
(هندیان په جنوبی آسیا کی: ۱۴۳ مخ).
دا تر لمر سپینه ده چی امان الله خان مکتب او تعلیم ته ډیر اهمیت ورکاوه. روایت دی چی کله هغه کندهار ته په سفر تللی و، نو تر هر څه اول یې د مکتب څخه لیدنه وکړه تر څو معارف له نږدې وارزوي. هلته یې ولیدل چی څو هلکان د ښوونځی په غولي (انګړ) کی لوبی کوی خو د مکتب نور ټول شاګردان په ټولګیو کی دي. حیران سو او پوښتنه یې وکړه چی دا ولی؟ د مکتب مدیر عرض وکړ چی دا هلکان هندوان دي. څنګه چی اوس د مسلمانانو د دینیات ساعت دی نو هغوی د صنف څخه راوتلی دي. پاچا ورته وویل: ما امر کړی دی چی په هغه ساعت کی چی مسلمانان دینیات وایی، نو هندو شاګردان باید خپل دینیات ووایی (مجلهٔ فردا، ۲۹ ګڼه، پنځم مخ، ۲۰۰۴).
څنګه چی پورته د دیوان نرنجن داس ذکر څو واره وسو، نو بده به نه وی چی په دې ارتباط د هغه مهال د تاریخ یوه بله پاڼه هم واړوو: دیوان نرنجنداس چی ډیر زړه ور او مدبر هندو و، زوی یې نه درلود بلکی دوې لوڼی یې لرلې چی یوه «رادها» او بله «زارا» نومېدل. رادها ډیره ښایسته وه. د کابل خلکو له نازه «رادو» بلله چی وروسته په «رادو جانه» سره مشهوره سوه. هغې د کوچنیوالي څخه د هلک کالي اغوستل او د خپل پلار سره به اوږه پر اوږه په رسمی او غیر رسمی غونډو، محافلو او میلمستیاوو کی راڅرګندېدله او داسی یې ښودله لکه د پلار زوی چی وی. رادوجانه چی ډیره ښکلي پېغله وه، د هر چا ډیره خوښېدله او هر چا یې ډیره ستاینه کول. د کابل ډیرو ځوانانو زړونه پر بایللي وو. څنګه چی هغې تل د خپل پلار سره سلطنتي دربار او غونډو ته تګ راتګ درلود، نو مَینانو یې دا جرأت نسو کولای چی هغې ته د خپل عشق اظهار وکړی. نو هغوی به مجبوره وو چی د خپلو زړونو فریاد په دې شعر سره پر ژبو راوړی او د هغې پر پلار ږغ وکړی چی دا د ګل غوندی نازکه او ښکلي پېغله خو تر مړینی وروسته قطعاً د سوځولو وړ نه ده، یعنی :
او دختر دیوان بی بی رادو جان
لاله را قسم دادم که رادو را نسوزان
لاله یعنی ( لالا ) چی دا کلمه زیاتره د هندوانو له پاره کارېدله. دغه سندره وروسته د ډاکتر صادق فطرت (ناشناس) په خواږه آواز کی وویل سوه چی ډیره مشهوره ده.
د هغه مهال هندو ځوانانو هم دا زړه نسو کولای چی دیوان صاحب ته د هغې له پاره مرکه وکړی. دا ځکه چی رادو جانه په اصطلاح «سردارخېله» وه. هغې د دربار د ښځمنو او پېغلو سره ډیره راشه درشه لرله او پر ټولو ډیره ګرانه هم وه.
خو کله چی امیر امان الله خان د سقاو د بغاوت او شرارت سره مخامخ سو او مجبوراً ایټالیا ته ولاړ، نو د دیوان صاحب او رادو جانی ژوند هم د خطر سره مخامخ سو او بالاجبار هندوستان ته وخوځېدل. رادو جانه په سپین سرتوب کی یو ځل افغانستان ته راغله او تر لږ مودې تیرولو وروسته د تل له پاره بیرته هند ته ولاړه. هغې هلته هم د ژوند تر پایه واده ونکړ او همداسی مړه سوه چی د کابلي ځوانانو هیلی او هوسونه هم ورسره مړه سول. (پورتنی قصه می پنځه دیرش کاله مخکی د خپلو مشرانو څخه اوریدلي وه).

کله چې امیر امان الله خان د تل له پاره د افغانستان څخه وداع کوله نو په کندهار کې ګڼ شمیر قومي مشرانو لوی لښکر تهیه کړ او بیرته یې د سقاو په مقابل کې پر کابل د یرغل اراده وکړه او شاه ته یې هم ډاډ ورکړ، خو شاه د ملت د وینو تویدل نه غوښته. په منزل باغ کې په دې ارتباط ډیره ستره غونډه جوړه سوه. ویل کیږي چې د کندهار یو شمیر هندوان هم په دې غونډه کې حاضر وو او د دې ملي لښکر سره یې د خپل یو ځای والي او د هیواد د دفاع ډاډ ورکړ، خو امان الله خان جنګ نه غوښت (بحران و نجات، ۱۷۹ مخ).

په هر صورت، د ۱۹۳۱ کال اساسي قانون چې د اعلیحضرت نادر شاه له خوا نافذ سو، هم افغاني هندوانو ته د پام وړ امتیازات ورکړل. مثلاً د دې قانون لومړنی مادې ویل چې د نورو ادیانو پیروان لکه هندوان یا یهودیان چې په افغانستان کې اوسیږي خوندي دي (هندیان په جنوبی آسیا کې : ۱۴۳ مخ).

د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون د افغانستان ټولو مذهبي اقلیتونو، منجمله هندوانو او سیکانو ته پراخې دیموکراتیکې، مذهبي او مدني آزادۍ ګانې ورکړې. د دې قانون لومړنی مادې داسې ویل : «غیر مسلمان اتباع باید آزاد وی چې خپلې دیني چارې په هغو حدودو کې تر سره کړي چې د عامه درنښت او آرامۍ د قوانینو له خوا ټاکل سوي وي» (د افغانستان اساسی قانون، ۱۹۶۴، دریم مخ). په ظاهرشاهي دوره کې افغاني هندوان (او سیکان) د حکومتي ځانګو په بیلابیلو برخو کې ډیر جذب سول او آن په سیاست کې هم برخمن سول. په خلق ګوند کې هم ډیرو هندوانو او سیکانو غړیتوب درلود. د ۱۹۶۸ کال په پارلماني انتخاباتو یعنې په دوولسمه دوره کې « جې سینګ » د کابل د استاځي په حیث ولسي جرګې ته بریالی سو. هغه مهال د کابل نفوس یو ملیون و، او پنځه پارلماني څوکۍ یې لرلې چې د دغو پنځو څخه یوه جې سینګ وګټله. جالبه لا دا چې هغه وخت د افغانستان په وګړو کې هندوانو او سیکانو څه کم نیمه سلنه نفوس درلود (هماغه).

د ظاهر شاه د واکمنۍ په اوږو کې او د داود خان د جمهوریت پر مهال د افغاني هندوانو سره د هیواد د نورو اتباعو غوندې برابر چلن کېدئ او د هر ډول آسانتیاوو څخه برخمن وو. هغوی په تعلیمي او تجارتي برخو کې ډیر پرمختګ وکړ. هغوی زیاتره په دولتي بانکونو او نورو مالي او تجارتي بانکونو کې ګومارل سوي وو. خو په حکومتي ادارو کې د هغوی شتون لږ و. دا له دې امله نه چې هغوی ته فرصت نه ورکول کېدئ بلکې ځکه چې هغوی پخپله آزاد کارو بار غوښت، او له دې درکه یې زیات عاید تر لاسه کاوه ( هندیان په جنوبی آسیا کې : ۱۴۴ مخ ).

دا لا څه، هندوانو ته دا اجازه او حق ورکول سوی و چې خپل ځانې او شخصي مکتبونه خلاص کړي حال دا چې په افغانستان کې هیڅ ډلې او هیڅا د شخصي ښوونځیو د خلاصولو او لرلو اجازه نه درلوده، خو یوازې هندوان له دې امتیازه برخمن وو (هماغه ).

د افغانستان هر تبعه دا وجیبه او وظیفه لرله چې دوه کاله به یې عسکري خدمت کاوه. هندوان او سیکان هم مستثنا نه وو، خو هغوی ته دا امتیاز ورکول سوی و چې په خپل ولایت کې به یې عسکري کول او غرمه به رخصت کېدل او بیرته به خپلو کورونو ته تلل. هغوی مجبور نه وو چې د خپلو نورو پوځیانو سره یو ځای ډوډۍ وخوري (هماغه). افغاني هندوانو او سیکانو د هیواد د سوداګرۍ او راکړې ورکړې ستره برخه په واک کې لرله. د هغوی د تجارت عمده لوری هندوستان و. هغوی به تازه او وچې میوې او نور اقلام هلته صادرول او په عوض کې به یې هندي تولیدات واردول چې له دې درکه یې ډیره ګټه کول ( هماغه، ۱۴۵ مخ ). له دې پرته هغوی په لویو

ښارونو کی د بزازۍ، زرګرۍ او نورو حرفو دکانونه لرل چی د عامه توجه، باور او ډاډ وړ وو. هغوی (خصوصاً په کندهار کی) د مځکو او باغونو اجاري یا مالکیت هم درلود. په لویو ښارونو خصوصاً کابل او کندهار کی چی به ځوانان عسکر کېدل نو خپلی پیسي به یي هندوانو ته د امانت په توګه ایښوولي او بیا به یي لږ لږ ځنی اخیستي چی دا پر هغوی د باور یو ښه ثبوت و (هماغه).
د تورو پیسو ( حوالي او صرافی ) کاروبار تقریباً ټوله د هندوانو په واک کی و چی دا کار د مسلمانانو له پاره منع و. تر ۱۹۴۸ پوری دا کار یهودیانو کاوه خو د اسراییلی دولت تر استقرار وروسته هغوی د افغانستان څخه ووتل او دا کاروبار هندوانو ته ورسېد ( هماغه : ۱۴۶ مخ ).
افغاني هندوانو د یوناني داروګانو او طبیعی بوټو په واسطه د علاج کاروبار هم کاوه. هغوی په لویو ښارونو کی د دې کار له پاره خپل دکانونه لرل او هم یي په کورونو کی دغه طبابت کاوه. هغوی دا مسلک په هند کی زده کاوه او وروسته به یي خپلو اولادو ته پسی ورزده کاوه. هغوی به کله کله کلیوالي او لیری پرتو سیمو ته هم ورتلل او هلته به یي د خلکو علاج کاوه. په کندهار کی چندرا طبیب او وروسته بیربل طبیب ډېر مشهور وو (هماغه).
د ظاهرشاه د سلطنت او داود خان د جمهوریت پر مهال د افغاني هندوانو زیاته برخه په کندهار، ننګرهار، غزنی، خوست او شمال کی اوسېدل چی د هغوی نیکه ګان څو پیړۍ مخکی افغانستان ته راکوچېدلی وو. د هغوی مورنۍ ژبه سندي او ملتاني ( یعنی د پنجابي یوه څانګه ) ده خو لږ شمیر په هندي هم ږغیږی ( هماغه ). سیکان تر هغوی وروسته افغانستان ته راغلي دي. د بی بی سي خبریال « سنجوی مجوم در » په ۲۰۰۳ کی ولیکل چی سیکان د لومړي ځل له پاره برتانویانو په نولسمه پیړۍ کی افغانستان ته راوستل (هندویت په افغانستان کی ویب پاڼه).
پخوا افغاني هندوان هم پر څو قومي برخو ویشل کېدل لکه برَهمن، کشتري او ویشري. خو وروسته نوۍ نسل د دې ډول امتیازي طبقه بندۍ څخه پردي سول. هغوی ځانونه د خپل پخواني ټاټوبی له رویه پېژنی لکه ملتاني، پنجابي او شکارپوري هندوان. ملتانی هندوان په کندهاري هندوانو سره مشهور دي چی تر نورو مخکی دلته میشته سـوي دي (هماغه : ۱۴۷ مخ ).
اوس به په بیلابیلو تاریخی دورو کی د ځینو مشهورو هندو مخورو نومونه ذکر کړم : ویل کیږی چی نندرالا غزنوي د سلطان محمود غزنوي د دربار یو هندو شاعر و چی په فارسی یي شعرونه ویل ؛ د شاه شجاع د مالیي وزیر لالا جیت مل و؛ دیوان نندلال بهسین د شاه امان الله د دفتر مدیر و ؛ حُکم چند کپور د بانکونو مؤسس او د افغان ملی بانک د لومړنیو مؤسسینو څخه ګڼل کیږی چی بیا د بانک د قانون او اقتصاد او پیسو د نوټونو په طرح کولو کی مهم شخص و ؛ پوهاند بال مکن داس په افغانستان کی د طب د پوهنځی د لومړنیو استادانو څخه و ؛ پُرانات د راډیو افغانستان د تکړه او خوږ ژبو سندرغاړو څخه و ؛ مهرچند ورما تر ۱۹۸۴ پوری د افغانستان د مالیي د وزارت مرستیال او بیا د وزیرانو د شورا اقتصادي سلاکار و ؛ سونارام تلوار د افغانستان د لومړنیو مستند جوړونکو څخه و ؛ چت رام ساتهی د هیواد تکړه تبله وهونکی او د اماتور آرکسټرا مشهور غړی و ؛ سنتوک سینګ د افغان اردو د لومړنیو ډګروالانو څخه و ؛ رجنی پران د راډیو افغانستان د خورا تکړه نطاقانو څخه و چی وروسته یي سندری هم ویلي ؛ سورج پرکاش تاچند د کابل پوهنتون د انجینیری پوهنځی تکړه استاد

و چې په واشنګټن پوهنتون کې یې عالی تحصیلات کړي وو ؛ ویشوامیترا د کندهار په بین المللی هوایی ډګر کې د تفتیش او کنټرول آمر او د کلیفورنیا د پوهنتون څخه د عالی تحصیلاتو لرونکی و ؛ کشن دیوان یو ټولنیز او ملی شخصیت او قومی مشر و ( د افغانستان مشاهیر : ۸۰، ۸۴، ۱۸۰، ۲۰۷، ۲۱۴، ۲۸۵ مخونه ) ؛ پوهاند دکتور موهن لال مهرا د کابل پوهنتون د ساینس پوهنځی لایق استاد، شام لال بتهیجا چې یو کال مخکې په کاناډا کې د افغانستان سفیر و (مي ۲۰۱۴ ـ مي ۲۰۱۵) ؛ د اوسني پارلمان سیکه غړی «انارکلي هنریار» چې یوه هیوادپاله میرمن ده، هیم راج د کندهار د هندوانو مشر او وکیل، لیک راج د کندهار مشهور روشنفکره، خدمتګار او منور هندو چې زما (یعنی دغه لیکوال) استاد هم و او ډیر نور. د لغمان ولایت هم لړ هندوان لری مګر پخوا دلته زیات شمیر هندوان آباد وو. ویل کیږی چې د هندي سینما د مشهور اېکټر «وینود کِهنه» کورنی د همدې ولایت څخه هند ته کوچېدلي ده (افغان هندو ټولنه، فېسبوک).

افغاني هندوانو د هیواد په ځینو برخو کې د ځایي افغانانو کلتور خپل کړی دی. مثلاً په لوګر او خوست کې هغوی د توپکونو سره ګرځی، جنګیالي او زړه ور دي، میلمه پاله او د بشپړ باور وړ دي، ښځې یې شنه خالونه وهی، لوی پوړنی پر سر کوی، په پښتو ژبه خبری کوی ( یعنی پښتو یې مورنی ژبه ده ) او د کلیوالي افغانانو غوندی ژوند کوی (هندیان په جنوبی آسیا کی، ۱۴۷ مخ ). په دې ارتباط به خپله یوه خاطره ولیکم چې د افغاني هندوانو د افغانیت، شهامت او غیرت تومنه لری. زه (یعنی دغه لیکوال) د ۱۹۸۸ څخه د ۱۹۹۹ تر پایه د هند په ډیلی کی اوسېدلی یم. هلته د ملګرو ملتونو د کډوالو د څانګی له خوا د افغان کډوالو له پاره څو مرکزونه جوړ سوي وو. په هر مرکز کی افغان ترجمانان په کار بوخت وو. یوه ورځ زه د «ویکاس پوري» مرکز ته ورغلم او هلته مې ولیده چې د څو تنو افغاني ښځو او یوې ترجماني پیغلی تر منځ سخت لفظي جنګ روان دی. دغو ښځو غټ پوړني پر سر کړي وو چې تر پښو پوری یې رسېدل، پر تندي او مخ یې شنه خالونه لرل، په ونه دنګی، په ځیره ښایسته او د غرنیو پښتنو په شان هیبت او حیثیت یې درلود. ټوله په پښتو ژبه ږغېدې. ماشومان هم ورسره وو یا یې په غېږ کې وو او د هغوی سره یې هم په پښتو خبري کولې. د دوی غیرت او پښتونوالي ډیر خوند راکړ، ورغلم او ورڅخه ومې پوښتل چې خویندو، څه خبره ده ؟ هغوی چې زما پښتو واورېدله په ډیره پښتني حیا سره یې راته وویل چې وروره، موږ پښتانه یو، نه مو فارسي زده ده او نه هندي. خو دلته دغه بدمرغه نجلۍ په پښتو هیڅ نه پوهیږی او زموږ مشکل دغو هندوستاني ښځو ته نسي ترجمه کولای. دا معاش دې د دې زهر سی چې په درواغو یې اخلی او هغوی ته وایی چې زما پښتو او فارسي دواړه زده دي. وطن دغو خاینانو خراب کړ....

خیر، ما مداخله وکړه او وروسته راته معلومه سوه چې ترجمانه یوه هزاره پیغله ده چې یو حرف پښتو یې هم زده نه دی. نو ما د دغو ښځو ترجماني وکړه او ډیره جالبه لا دا چې تر همدې لحظې خبر نه وم چې هغوی زما د وطن هندوانیانی دي. دوی د خوست معززی هندو ښځې وې. ما یې ترجماني وکړه او د اړونده مرکز مامورانی (چې د هندوستان هندوانیانی وې) حیرانی سوې چې دا څنګه هندوانیانی دي چې نه یې هندي او نه یې فارسي ژبی زده دي. هغوی وروسته خورا خوشحاله سوې او زیاتی دعاوی یې راته وکړې. هو، دا زموږ د وطن اصیلی لوڼی او د ویاړ نمونې وې چې نن په هند کې د حسرت او مسافرت ژوند تیروی.

په هر صورت، هغه هندوان چې په کلیو او کوچنیو ښارونو کې اوسیږي د ځایي خانانو تر حمایت لاندې کاروبار او دکانداري کوي خو د ښارونو ځینو شتمنو هندوانو په هند کې خپلوۍ کړي، هلته یې جایدادونه او بنګلې اخیستي دي او هلته خپلې تجارتي نمایندګۍ لري (هماغه).

کله چې په ۱۹۴۷ کې هند وویشل سو او د پاکستان په نوم یو نوی هیواد وزوکېد، نو د خیبر پښتونخوا او بلوچستان ډیر هندوان له مجبوریته افغانستان ته راغلل او په کلیو کې یې استوګنه غوره کړه. هغوی ټولو دلته ځانونه ژغورنده او محفوظ وبلل. وروسته د هغوی زیاته برخه هندوستان ته ولاړل (هماغه).

د افغاني هندوانو د نفوس په باره کې بیلابیلو شاهدانو او محققانو بیل بیل اعداد او ارقام بیان کړي دي. والټر بیلیو چې په ۱۸۵۰ کلونو کې په افغانستان کې ګرځېدئ، د افغانستان د هندوانو شمیر دري لکه (۳۰۰۰۰۰) کسان ښودلی دی. خو د برتانیې له خوا د هند د نیولو، او د بحري لارو تر کشفېدو وروسته د کندهار، شکارپور او نورو افغاني سیمو د هندوانو تعداد په تدریج سره لږ سو. زیاتره هندوان د سِند نورو برخو او مهاراشترا (بمبئ، پونه) ته وخوځېدل. په ۱۹۷۰ لسیزه کې د افغاني هندوانو نفوس دیرش زرو ته رسېدی (هماغه : ۱۴۸ مخ). خو اوس څه باندې یو زر کسان پاته دي (هندویت په افغانستان کې ویب پاڼه).

په هر صورت، د پورتني ځیرنې څخه په مجموع کې دا نتیجه اخیستل کیږي چې افغاني هندوان (او سیکان) زموږ د هیواد اصیل بچیان دي چې پیړۍ پیړۍ دلته په سوله، خوښۍ او نېکمرغۍ سره اوسېدلي دي. هغوی د افغاني ټولنې په اوبدنه کې مهم ځای لري. په کندهار کې «هندو چوک»، «هندو باغ » «سرای تارا سینګ» او «سرای راجا» او په کابل کې « هندو ګذر » او نور زموږ د تاریخي جغرافیې یوه مهمه خښته ده. هغوی د یو خواریکښ، وفاداره، هیواد پاله او بې آزاره اقلیت په توګه ولس او هیواد ته خدمت کړی دی. هغوی د تاریخ په بیلابیلو پړاوونو کې د ملت او دولت دواړو د بشپړ باور وړ ګرځېدلي دي. هغوی د نورو افغانانو غوندې د وطن په ښیرازۍ او سوکالۍ کې قرباني ورکړي دي. هغوی هم د تیرو درونیمو لسیزو راهیسې د ټول افغان ولس غوندې مصیبتونه او غمونه ګاللي دي. هغوی د یو فعال او وفادار اقلیت په توګه پر افغان ولس باندې د پالنې او ساتنې اخلاقي حق لري چې موږ ټول یې باید تر خپله وسه تأمین او تضمین کړو، پای (ن. صمد).

## د دې برخې مأخذونه:


۱ ـ هندیان په جنوبی آسیا کې [د افغانستان اړونده برخه]؛ عبدالعلی ارغنداوی، مصحح: آی. جي. بهادر سینګ، نوي ډیلی، ۱۹۸۴.

۲ ـ نګاهی مختصر به تاریخ معاصر افغانستان؛ کاندید اکادیمسین محمد ابراهیم عطایی؛ مترجم: دکتور جمیل الرحمن کامګار، چاپ اول، بنګاه نشراتی میوند، پشاور، ۱۳۸۳ شمسی.

۳ ـ افغانستان در پنج قرن اخیر؛ میر محمد صدیق فرهنګ، چاپ اول، مشهد، ۱۳۷۱ شمسی.

۴ ـ افغانستان در مسیر تاریخ: میر غلام محمد غبار، دولتی مطبعه، کابل، ۱۳۴۶ ( ۱۹۶۷ ).

۵ ـ جریدهٔ امان افغان؛ لومړی کال، اتمه ګڼه، د ۱۲۹۹ لمریز کال د ثور دیرشمه.

۶ ـ دورهٔ امانی: نګرشی به اوضاع اجتماعی، فرهنګی و سیاسی؛ اکادمیسین دکتور اسدالله حبیب، ۱۳۶۸، کابل.

۷ ـ مجلهٔ فردا، ۲۹ ګڼه، ۲۰۰۴ ، سویډن.

۸ ـ بحران و نجات: غلام محی الدین انیس، بنگاه نشراتی میوند، ۱۳۷۸، پشاور.
۹ـ د افغانستان اساسی قانون؛ ۱۹۶۴، په انګریزي ژبه، کابل.
۱۰ـ د افغانستان مشاهیر؛ لوډویک ډبلیو. اډامیک، ګرېز، اطریش، ۱۹۷۵.
۱۱ ـ افغان هندو ټولنه، فېسبوک پاڼه.
۱۲ ـ هندویت په افغانستان کی ویب پاڼه.